# اسلام او چاپيريال ساتنه

ليکنه: عبيدالله حبيبي

اسلام د لوي خداي له لورې داسې پيرزوينه ده چې شايد ډير کم او لږ شمير وګړي يې په حقيقي ارزښت پوهيدلي وي، اسلام د ژوند ټول اړخونه په نظر کې نيولي او د يوې سالمې او پاکې ټولنې د رامنځته کولو لپاره يې جدي هلې ځلې او داسې سپارښتنې ځوارلس سوه کاله پخوا کړي چې په نويو او عصري وسايلو سمبال ساينس ورته ګوته په غاښ دی.

چې د هغې له جملې د اسلام له خوا د چاپيريال او چاپيريالي مواردو څيړنه ده چې په لنډ ډول يې مونږ دلته څو مهم ټکي تربحث لاندې نيسو:

د بي بي سي د راپور له مخې د تانزانيا هيواد په سواحلو کې ښکاريانو د ماهيانو د ښکار کولو لپاره له ډيناميټو چې يوه وژونکې او د بحري ژويو په پوره ډول له منځه وړونکې ماده ده ګټه اخيستله ، د نوموړي هيواد د چاپيريال ساتنې ادارې مامورينو ډيره هڅه وکړه چې ددغه کار مخه ونيسي خو بريالي نه شول.

بالاخره دوي د ښکاريانو په اړه څيړنه وکړه او ويې موندل چې ښکاريان ټول مسلمانان او د ځايي ملايانو تر قاطع نفوذ لاندې دي.

د چاپيريال ساتنې ادارې مامورينو له ملايانو سره اړيکه ونيوله او هغوي ته يې دنده وسپارله ترڅو ښکاريانو ته د اسلام د لارښوونو په رڼا کې د نوموړي کار پايلې او عواقب څرګند کړي ، ځايي ملايانو، ښکاريان د اسلام د اصيل پوهاوي له مخې ددغه کار په زيانونو او د اسلام له نظره د نوموړي کار په تحريم وپوهول چې په پايله کې ښکاريانو د ډيناميټو او په سيند کې له هر ډول زيان لرونکو موادو له اچولو ډډه وکړه او په سولييز ډول نوموړې مسلې ته د پاي ټکی کيښودل شو.

د ښکاريانو له ډلې يوه يې کرسټين سانس مجلې ته وويل : زه په دې پوه شوم چې د ډيناميټو استعمال ويجاړوونکې پايلې لري او دغه لارښوونې د کوم سپين پوستي له خوا نه ، بلکې د قرآن له خوا دي.

## ككړتيا او له چاپيريال سره د مسلمان اړيکې

لکه څرنګه چې مخکې مو یادونه وکړه اسلام څوارلس سوه کاله دمخه د چاپیریال ساتنې په اړه لازمې لارښوونې کړي او دا ددې ښکاره دلیل دی چې اسلامي قوانین د اوسنیو وضعي او د انسان له خوا جوړو شویو قوانینو څخه ډیر دقیق او اسانه پلي کیدونکي دي.

د اسلام له نظره د چاپیریال تعریف:

۱-اسلام وایي چاپیریال د انسان لپاره مسخرشوی تر څو انسان د خپل ژوند او د چاپیریال ترمنځ په ژوره اړیکه پوه شي او په سم ډول یې ساتنه وکړي.
الله تعالی فرمایي:
**وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعًا مِّنۡهُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ.**
**ژباړه:** او تاسو لپاره یې په کار لګولي دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي، په داسې حال کې چې دا ټول د هغه له جانبه (مسخر) دي، بېشکه په دغو کې د هغه قوم لپاره یقینًا ډېرې نښې دي چې غور فکر کوي.

2-اسلام، انسان ته دا څرګنده کړې چې له خوراک او څښاک رانیولې ټول هغه څه چې نوموړی ورته اړتیا لري، کولای شي له چاپیریال لاس ته راوړي.
الله تعالی فرمایي:
**فَلْيَنْظُرِ الْإِنْسَانُ إِلَى طَعَامِهِ ﴿۲۴﴾أَنَّا صَبَبْنَا الْمَاءَ صَبًّا ﴿۲۵﴾ثُمَّ شَقَقْنَا الْأَرْضَ شَقًّا ﴿۲۶﴾فَأَنْبَتْنَا فِيهَا حَبًّا ﴿۲۷﴾وَعِنَبًا وَقَضْبًا ﴿۲۸﴾وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا ﴿۲۹﴾وَحَدَائِقَ غُلْبًا ﴿۳۰﴾وَفَاكِهَةً وَأَبًّا ﴿۳۱﴾. سوره عبس**
**ژباړه:نو ودې ګوري انسان طرف خوړو خپلو ته﴿۲۴﴾ بیشکه مونږ تویې کړي دي اوبه (له وریځو څخه) په تویولو سره﴿۲۵﴾ بیا څیرې کړې ده مونږ ځمکه په څیرولوسره﴿۲۶﴾بیا مو زرغونې کړې دي په هغې (ځمکه) کې دانې ﴿۲۷﴾ او انګور او مڼه﴿۲۸﴾ اوزیتون او خرما﴿۲۹﴾اوباغونه ګڼ(له جهته د ډیروالي د ونو نه) ﴿۳۰﴾ او (تازه) میوې او( وچې میوې یا) واښه ﴿۳۱﴾**

۳-سره له دې چې چاپیریال انسان ته مسخر شوی او کولای شي خپلې ټولې اړتیاوې ورڅخه په لاس راوړي، چاپیریال د رواني سکون او آرامښت سبب ګرځي.
الله تعالی په چاپیریال کې داسې ښکلا پیدا کړې چې د انسان روح او روان آراموي او د کلونو کلونو ستړیا یې له منځه وړي.
الله تعالی فرمایي:
**وَهُوَ الَّذِي أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ نَبَاتَ كُلِّ شَيْءٍ فَأَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا وَمِنَ النَّخْلِ مِن طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَجَنَّاتٍ مِّنْ أَعْنَابٍ وَالزَّيْتُونَ**

**وَالرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ۗ انظُرُوا إِلَىٰ ثَمَرِهِ إِذَا أَثْمَرَ وَيَنْعِهِ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكُمْ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ . الأنعام (99)**

**ژباړه: او دغه (الله) هغه(ذات) دی چې نازلې (راکښته) کړې يې دي له (طرفه د) آسمانه اوبه نو را ايستلي دي مونږ په دې (اوبو) سره زرغونه د هر شي (زرغونيدونکي) نو را ايستلي دي مونږ له هغه (زرغونه) څخه شين ( کښت) چې بيا را وباسو مونږ له دې (شنه ډکي) څخه دانې يو په بل سيوری (لکه وږی) او (را وباسو) له ( جنسه د) خرما څخه ( داسې خرما چې راووځي) له غلافه ( د وږي) د هغې څخه وږی نژدې ( ځمکې ته يا يو د بل سره) او ( را وباسو) باغونه له انګورو او (را وباسو) زيتون او انار په داسې حال کې چې يو بل سره مشابه وي ( په پاڼو کې ) او نه وي مشابه ( بلکې بېل وي په خوند کې) وګورئ تاسې طرف د ميوې د هرې ونې ته کله چې ميوه ونيسي او پوخوالي د هغې ته بيشکه په دغو (تيرو توکو) کې خامخا دلايل ( دقدرت او وحدت) دي د هغه قوم لپاره چې ايمان لري (تصديق کوي). الأنعام(99)**

## په چاپيريال کې د انسان وظيفه

1-انسان بايد هيڅا ته د تکليف او اذيت رسونې سبب نه شي ځکه تکليف رسونه اسلام د لويو ګناهونو له ډلې شميرلې.

الله تعالی فرمايي:

**وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُّبِينًا الأحزاب(58)**

**ژباړه: او هغه کسان چې ضرر رسوي مومنانو سړيو او مومناتو ښځو ته ( په تهمت)په غير د هغه کار چې کړی يې وي دوي ( يعني په نا کړي کار) پس په تحقيق سره باروي دوي په خپل ځان غټ دروغ او ګناه ښکاره ( چې د عقوبت او سزا سبب وي) الأحزاب (58)**

په همدغه ډول رسول الله صلی الله عليه وسلم له هغه ځايه چې هلته وبا خپره شوې وي د نه وتلو او په خپل ځاي د پاتې کيدلو امر کړي تر څو نورو خلکو ته سرايت ونه کړي.

2-مسلمان بايد د چاپيريال په ساتنه او سالمه بيارغونه کې ونډه واخلي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:
مسلمانان په درې څيزونو کې شريک دي: اور، اوبه او بوټي يا نباتات.
ددې حديث مفهوم دادی چې هر فرد په چاپيريال کې ځانګړې ونډه لري او هر وګړي ته ور په يادوي چې نوموړی د خپل چاپيريال مالک او خاوند دی چې په بايد په اړه يې پاملرنه او د اصلاح لپاره يې هلې ځلې وکړي.
قرآن کريم مونږ ته ابراهيم عليه السلام د نمونې په ډول يادوي او دهغه کيسه کوي چې نوموړي څه ډول د خپلې سيمې ساتنه کوله او تل يې له خدايه د هغې سلامتيا غوښتله.
الله تعالی فرمايي:
**وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَلَداً آمِناً وَارْزُقْ أَهْلَهُ مِنَ الثَّمَرَاتِ مَنْ آمَنَ مِنْهُم بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ.سورة البقرة (126).**
**ژباړه: او (ياد کړه ای محمده صلی الله عليه وسلم) هغه وخت چې وويل ابرهيم( عليه السلام) ای زما ربه وګرځوه دا ښار( چې کعبه مې په کې ودانه کړې ده) ځاي د امن او روزي ورکړه اوسيدونکو ته يې له هر راز (ډول) ميوو نه هر هغه چا لره چې ايمان يې راوړی له دوي ځنې په الله او په ورځ د اخرت باندې ( چې د قيامت ورځ ده). البقره (126)**

په بل آيت کې قرآن کريم انسان ته دا ور په يادوي چې نوموړی بايد د چاپيريال په بيارغونه او د ځمکې په آبادولو کې ونډه واخلي.

الله تعالی فرمايي:
**هو أنشأكم من الأرض و استعمركم فيها. هود(61).**
**ژباړه: هم دغه (الله) پيدا کړي يی تاسې له ځمکې ( چې آدم يا ماده د نطفې ده) او اوږده عمرونه يې درکړي دي تاسې ته په دغې ( ځمکې) کې. هود (۶۱)**

## د چاپيريال ساتنې نېکه بدله

اسلام يواځې د چاپيريال د سالمې ساتنې په لور خپل پيروان نه تشويقوي بلکې د نېکو او غوره بدلو وعده يې هم کړې چې په لاندې ډول يې څو نمونې بيانوو:
۱-ضرر لرونکي شيان له چاپيريال لرې کول د ايمان برخه ده.
رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:
الايمان بضع و سبعون شعبة اعلاها لا اله الا الله و ادناها اماطة الاذی عن الطريق.

ژباړه: ایمان څه دپاسه اویا برخې لري چې لوړه یې لااله الاالله او ښکته برخه یې له لارې څخه د ضرر لرونکو شیانو لرې کول دي.
۲-چاپیریال د مسلمان د ژوند او اوسیدلو ځای دی چې په هغې کې د نوموړي د سجدې له ځای نیولې د نوموړي تر ناموس هر څه خوندي دي او اسلام له هغې څخه دفاع او ساتنه جهاد بللی.
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:
رباط يوم في سبيل الله خير من الدنيا و مافيها.
ژباړه: د خداي په لار کې د يوې ورځې لپاره پیره او حراست کول له دنیا او هغه څه چې په دنیا کې دي غوره ده.
او له رباط او حراست څخه هدف له تجاوز کوونکي څخه – هغه داخلي وي او که خارجي- د هیواد ساتل دي.
په بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:
من قتل دون ماله فهو شهيد.
څوک چې د خپل مال څخه د دفاع پر وخت ووژل شو هغه شهید دی.
او زموږ تر ټولو قیمتي مال هغه ځمکه ده چې مونږ پکې اوسیږو او ژوند پکې کوو.
په همدغه ډول په بل حدیث کې فرمايي:
یو سړی مې په جنت کې ولید چې یواځې له دې امله چې د ونې یوه څانګه چې خلک ورڅخه په تکلیف و له لارې لرې کړې وه الله تعالی جنت ته داخل کړی و.
نو څه فکرکوئ د هغه سړي بدله او اجر به څه وي چې له دې غټ کار ترسره کړي او چاپیریال له زیان لرونکو موادو وژغوري؟
په بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه چا اجربیانوي چې د چاپیریال د اصلاح او پرمختګ سبب ګرځي او فرمايي:
مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا، أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا، فَيَأْكُلُ مِنْهُ طَيْرٌ أَوْ إِنْسَانٌ أَوْ بَهِيمَةٌ، إِلاَّ كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ.
د پورته حدیث مفهوم دادی چې که چیرې یو مسلمان یو بوټی کینوي یا کښت وکري او له هغې یو الوتونکی یا انسان خواړه وخوري نو دا د نوموړي لپاره صدقه ده او اجر پرې ورکول کیږي.

## چاپیریال ته د زیان اړوونکي سزا

اسلام چاپیریال ته زیان اړول لویه ګناه او په ناحقه له وینو تویولو هم لوي معصیت بللی.

الله تعالی فرمايي:
**وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لا تَعْلَمُونَ[البقرة:30]**
**ژباړه: او( یاد کړه ای محمده صلی الله علیه وسلم) هغه وخت چې وویل پروردګار ستا پرښتو ته چې بېشکه زه ګرځوونکی یم په ځمکه کې د یو خلیفه، نو وویل پرښتو آیا ګرځوې ته په ځمکه کې هغه څوک چې فساد به کوي به دې کې او تویوي به ( په ناحقه سره) وینې، حال دا چې مونږ تسبیح وایو سره د ثنا ستا او نسبت د پاکۍ کوو تاته. البقره (30)**

په ځمکه کې فساد چاپېریال ته د زیان اړولو یو ډول دی چې په پورته آیت کې له وینې تویونې هم مخکې ذکر شوی له دې امله چې د چاپېریال ککړول د وژلو په ډول ویجاړوونکې پایلې لري.

د وژنې ګواښ شاید یو،دوه یا درې کسانو ته متوجه وي مګر د چاپېریال ککړول د زرګونو یا هم د ملینونو کسانو د تدریجي مرګ سبب ګرځي په همدغه ډول په زرګونو کښتونه له تباهۍ سره مخ کوي.

الله تعالی د ځینو خلکو په اړه فرمايي:
**وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ. البقره(205)**
**ژباړه:او کله چې بیرته وګرځي( له تانه ای محمده صلی الله علیه وسلم) نو ګرندی ګرځي په ځمکه( د مدینې) کې لپاره ددې چې فساد وکړي په ځمکه کې او هلاکوي کښت (فصل) او ساکښان( ذي روح) (په سوځولو او وژلو سره) حال دا چې الله تعالی فساد نه خوښوي. البقره(205)**

او د کښت او نسل ویجاړول یو ډول فساد دی چې پورته آیت یې په اړه بحث کوي.

اسلام د چاپیریال ککړوونکو او پرې تیري او ظلم کوونکو ته درنې سزاګانې ټاکلي.

الله تعالی فرمایي:

**إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَافٍ أَوْ يُنفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ۚ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا ۖ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ. المائده(33)**
**ژباړه: بېشکه همدا خبره ده چې سزا د هغو کسانو چې جنګ کوي دوي له (دوستانو) د الله او د رسول سره او سعي کوي( منډې وهي) دوي په ځمکه (په ملک) کې لپاره د فساد ( او بد امنۍ غورځولو) چې دوي ووژلی شي یا په دار کړی شي یا دې پرې کړل شي لاسونه ددوي او پښې ددوي سره مخالفې( یعنې ښی لاس او کیڼه پښه او یا برعکس) یا دې و شړلی شي له ځمکې ( په حبس سره یا له هغه ځایه بل لرې ځاي ته) دا( ذکر شوې سزا) دغو(غلو) ته رسوایي ده په دنیا کې او (شته) دغو (غلو) ته په آخرت کې ډیر لوي عذاب. المائده(33)**

امام شوکاني رحمه الله ددې آیت په تفسیر کې فرمایي:

علماء په پورته آیت د ذکر شوي فساد په اړه اختلاف لري، څوک یې شرک او څوک یې د لارو شکول بیانوي مګر د قرآن کریم ظاهري نظم او ترتیب ته په کتلو له نوموړي آیت هر ډول فساد مراد دی.

د مثال په ډول شرک کول او له خداي سره شریک نیول هم په ځمکه کې فساد دی، په ناحقه وینې تویول او له خلکو د هغوي مالونه په زور اخیستل هم په ځمکه کې فساد دی، په ناحقه د واکمنانو امر نه منل او له هغوي یاغي کیدل هم په ځمکه کې فساد دی او د ودانیو نړول، د ونو پریکول او د کانالونو او ویالو ویجاړول هم فساد دی.

په بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم راځي چې یو سړي له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې د هغه سړي به څه سزا وي چې په یوه دښته کې داسې یوه ونه پرې کړي چې مسافر او څاروي یې تر سیوري لاندې دمه جوړوي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی به یې اور ته داخل کړي. (ابوداود)

اسلام خلیفه یا واکمن ته پوره صلاحیت ورکړی بلکې امر یې ورته کړی تر څو د هغه کسانو چې چاپیریال ته زیان اړوي مخه ونیسي او په اړه یې جدي واوسي.

مأخذونه:

1- بي بي سي عربي ويبپاڼه

٢-تفسير الطبري

٣-د قرآن کريم ترجمه او تفسير په پښتو ژبه کې ( د حرمينو شريفينو د خادم پادشاه فهد دقرآن کريم د طباعت چاپ خانه)

۴-د چاپيريال ساتنې تر عنوان لاندې د أم الفحم مساجدو دامامانو نړيوال کنفرانس

5-د چاپيريال ساتنې په اړه عمومي لارښووني

IFC (International Finance Corporation)

6- پښتو ژبې ته د قرآن کريم د معناگانو ژباړه، ژباړوونکی: زکريا عبد السلام، بيا کتنه: مفتي عبد الولي خان. د چاپ کال ١۴٢٣ هـ.